السنّة النبوية وعلومها
www.sunnah.global

# بېشکه تا د يو ستر کار په اړه پوښتنه وکړه، او دا کار هغه چا ته ډېر اسان دی چې الله ورته اسانه کړی وي

د معاذ بن جبل رضي الله عنه څخه روایت دی وايي: ما وويل: ای د الله رسوله! داسې عمل را وښيه چې ما جنت ته داخل کړي او له دوزخ نه مې لرې وساتي، هغه وفرمايل: «بېشکه تا د يو ستر کار په اړه پوښتنه وکړه، او دا کار هغه چا ته ډېر اسان دی چې الله ورته اسانه کړی وي: هغه دا دی چې د الله عبادت وکړې او هېڅ شی ورسره شریک نه کړې، لمونځ قايم کړې، زکات ورکړې، د رمضان روژه ونيسې، او د بيت الله حج وکړې، بيا يې وفرمايل: ايا غواړې چې د خير دروازې در وښيم؟ روژه ډال دی (له ګناهونو څخه د ساتنې وسيله) او صدقه ګناهونه داسې وژني لکه څنګه چې اوبه اور مړ کوي، او د سړي لمونځ کله چې شپه پخه شي، بيا يې دا آيت تلاوت کړ: {تَتَجَافَى جُنُوبُهُمْ عَنِ الْمَضَاجِعِ} تر دې چې {يَعْمَلُونَ} ته ورسيد، بيا يې وويل: آيا غواړې د دين سر، ستنې او لوړه څوکه در وښيم؟ ما وويل: هو، ای د الله رسوله! ويې ويل: د دين سر اسلام دی، ستنه يې لمونځ او لوړه برخه يې جهاد دی، بيا يې وفرمايل: آيا غواړې چې د دې ټولو اصل او جوهر در وښيم؟ ما وويل: هو، اې د الله رسوله! هغه خپله ژبه ونيوله او ويې ويل: «دا دې کنترول کړه!» ما وويل: اې د الله نبي! آيا موږ په خبرو کولو هم نيول کېږو، هغه وفرمايل: «مور دې دربانديې بوره شه! آيا له ژبې پرته بل څه شته چې له امله يې خلک پر مخه په اور ولوېږي!»

[صحيح دی] [الترمذي روايت کړی دی]

معاذ رضي الله عنه وويل: زه د رسول الله صلى الله عليه وسلم سره په يو سفر کې وم، نو يوه ورځ د تګ پر مهال ورنږدې شوم ما وويل: اې د الله رسوله! داسې يو عمل راته وښايه چې جنت ته مې ننباسي او له اور څخه مې لرې کړي، هغه وفرمايل: تا له ما څخه د يو داسې عمل په اړه پوښتنه وکړه چې نفسونو ته يې تر سره کول لويه خبره ده او د هغه چا لپاره اسان دی چې الله ورته اسان کړی وي؛ نو د اسلام فرايض ادا کړه: لومړی چې: يوازې د الله تعالی عبادت کوه او له هغه سره هېڅ شی مه شريکوه. دويم: په شپه او ورځ کې په شرطونو، ارکانو، فرائضو او واجباتو برابر پنځه وخته لمونځونه کوه: سهار، ماسپښين، مازديګر، ماښام او ماخوستن. دريم: له هر هغه مال څخه فرضي زکات وباسه چې يوې شرعي ټاکلې اندازې ته ورسيږي، دا يو مالي عبادت دی او مستحقو کسانو ته ورکول کيږي. څلورم: د رمضان روژه ونيسه چې هغه له سهار څخه تر لمر لوېدو پورې د عبادت په نيت له خوراک، څښاک او داسې نورو شيانو څخه ډډه کول دي چې روژه ماتوي. پنځم: د عبادت په نيت د مکې په لور بيت الله ته د حج د مناسکو د ادا کولو لپاره لاړ شه. بيا رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: آيا داسې يوه لار در ونه ښيم چې د کامياب تر دروازو دې ورسوي؟ هغه دا ده چې د فرضو پسې نفلي عملونه تر سره کړه. لومړی: نفلي روژې، چې په ګناهونو له اخته کېدو څخه مخنيوی کوي، ځکه چې شهوت ماتوي او ځواک کمزوری کوي. دويم: نفلي صدقه او خيرات، ځکه چې صدقه ګناه له منځه وړي او اثر يې ختموي. دريم: د شپې په وروست دريمه برخه کې تهجد لمونځ کول، بيا رسول الله صلى الله عليه وسلم دا آيت ولوست:{تتجافى جنوبهم} يعني د تهجد کوونکو ډډې او اړخونه {عن المضاجع} له خوب ځايونو څخه جلا کيږی، {يدعون ربهم} ځکه چې خپل رب په لمانځه، ذکر، د قران کريم تلاوت او دعا سره رابللي، {خوفا وطمعا ومما رزقناهم ينفقون، فلا تعلم نفس ما أخفي لهم من قرة أعين} په وېرې او تمې سره او له هغه (مال) نه، چې مونږ دوی ته ورکړی دی؛ څه لګوي، نو هېڅ يو نفس ته معلوم نه دي هغه څه چې د دوی لپاره پټ کړی شوي دي، د سترګو له يخوالي څخه، يعنې د قيامت په ورځ او په تل پاتې جنتونو کې {جزاء بما كانوا يعملون} د هغو عملونو د بدلې په توګه چې دوی به کول. بيا رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: آيا زه تاسو ته د دين د بنسټ او هغې ستنې په اړه خبر درنکړم چې پرې ولاړ دی او تر ټولو لوړه څوکه يې ده؟ معاذ رضي الله عنه وويل: هو ( په اړه يې خبر راکړه ) اې د الله رسوله. رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: د دين

سر: اسلام دی چې له دوه وو ګواهیو څخه عبارت دی او په دوی له انسان سره د دین بنسټ جوړیږي. او ستن یې: لمونځ دی، نو له لمانځه پرته اسلام نشته، لکه څرنګه چې کور (کوټه) له ستنو (دیوالونو) پرته نه جوړیږي؛ او تر ټولو لوړه څوکه یې جهاد او د دښمنانو سره په جګړه کې د الله جل جلاله د کلمې د پورته کولو لپاره زیار وېستل دي. بیا رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: آیا زه تاسو ته د هغه څه د ټینګتیا او کره والي په اړه - خبر درنه کړم - چې پورته ذکر شول؟ نو رسول الله صلی الله علیه وسلم خپله ژبه ونیوله او ویې فرمایل: دا دې په خپل واک کې وساته او کوم څه چې درپورې اړه نه لري په اړه یې خبرې مه کوه. معاذ وویل: آیا زموږ رب به له موږ سره زموږ په خبرو حساب کوي او پرې مو نیسي؟! رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: مور دې درباندې بوره شي! لدې وینا څخه یې موخه خیرا کول نه دي، بلکې دا د عربو له ویناوو څخه یوه ده او هغه مهال یې کاروي چې کله غواړي د یو چا پام راواړوي او یو څه ور وپېژني، بیا یې وفرمایل: آیا د ژبې له ناوړه ویناوو لکه: کفر، تور پورې کول، ښکنځل، غیبت، چغلي او بهتان پرته بل څه هم شته چې له امله یې خلک پړمخه په اور کې اچول کیږي.

https://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/66530